
شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

چهارشنبه |د شوال المکرم ۲۷-۱٤٤٤/ د غويي ۲۷-۱٤٠۲/ د مي ۱۷-۲۰۲۳/ لومړی کال / ۴۹ گڼه/ ٤ مخيز ۱

**نبوي لارښووني:**

کـه تـاسي پـر اللـه داسي تـوکل وکـړئ، چـي حـق او رښـيتنی تـوکل وي؛ نـو تـاسي تـه بـه داسي زرق درکـړي لکـه د هـوا مرغانـو ته چـي ئې ورکـړی دئ، سـهار خـالي نسـونه او بيـگا ډکـي گيـډي . (ابـن ماجـه ، الترمـذی او احمـد )

## د مشرتابه درانه مقام له لوري په مالياتو کې د تخفيف په اړه اعلاميه




د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د خصوصي سکتور د ودي او ملاتړ په موخه په مهمو مالياتي موضوعاتو کي اسانتياوي رامنځته سوې.

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د (۳۰۲۹) گڼي او ( ۱۴۴۴/۸/۲۵ ) نېټي ځانگړي حکم پر بنسټ د رياست الوزراء د اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ، د معاشاتو او تشکيلاتو کمېسيون د غړو ترڅنگ د مشرتابه مقام استازي مولوي احمد جان بلال، د صنعت او سوداگرۍ وزارت سرپرست، د اقتصادي کمېسيون استازي، د ماليې وزارت مرستيال او اړوندو رياستونو مسئولينو او د خصوصي سکتور د بېلابيلو برخو استازو پرلپسې کاري ناستي وکړې.

پاته برخه په ۲هم مخ کي...

## د فساد د مخنيوي په تړاو د ماليې وزارت عوايدو لوی رياست خبرتيا!

ماليات د هيواد د ملي شتمنۍ (بيت المال) ستره برخه، او په هيواد کي د نظام د پايښت، ټينگښت او لگښتونو د ملاتړ سرچينه ده. له همدې کبله د مالياتي چارو شفافيت، کنټرول، معياري کول او ارزول نه يوازې د ماليې وزارت؛ بلکي د ټولو افغانانو ديني، انساني او ملي دنده ده، چي په دغه مسؤليت کي پراخه او مسؤلانه ونډه واخلي.

گرانو هيوادوالو! هغه ماليه ورکوونکي، چي د مالياتي قوانينو له مخي په سم او راتلونکي ډول خپل مالياتي مکلفيتونه نه ترسره کوي او کوښښ کوي، چي د مالياتو له ورکړې تېښته وکړي او يا هم د مالياتي ادارو هغه کارکوونکي چي د اداري او مالي فساد، د قانون څخه د سرغړونو او ناقانوني کړنو لامل کيږي؛ هيله ده، چي د ذکر سوو چارو د سمون، ټينگښت او پايښت په موخه او د انساني، ديني او ملي رسالت او مسؤليت له مخي د دغو ناکاره وگړو او د هغوی د ناقانوني کړنو په اړه د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د اړيکو نيولو د خدمتونو له مرکز (۱۰۰۰) شمېرې او يا هم له (info.ard@mof.gov.af) رسمي برېښناليک سره د اړيکو په ټينگولو، زموږ سره خپل معلومات شريک کړئ.

که چيري تاسي د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست سره د هر ډول مالياتي مواردو د تخلف په اړه معلومات شريک کړئ، ستاسي هويت به په بشپړ ډول خوندي وي.

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست رهبري د مالياتي ادارو د سمون او اصلاح په موخه ټينگ هوډ لري، چي اداري فساد له منځه يوسي او د عوايدو را ټولو سيستم شفاف او معياري کړي.





زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

## د ثور شلمه نېټه د صادراتو ملي ورځ ونومول سوه

د افغانستان اسلامي امارت د کابينې له لوري د ثور مياشتي (۲۰مه) نېټه د صادراتو د ملي ورځي په نوم ونومول‌ه. ماليې وزارت د خپلو ملي مهمو فعاليتونو تر څنگ د هيواد په ټولو گمرکونو او سوداگريزو بندرونو کي صادراتي محمولو ته لومړيتوب ورکوي او په دې برخه کي ئې سوداگرو ته اړيني اسانتياوي برابري کړي، چي ورسره له هيواد څخه د صادراتو په کچه کي د پخوا په پرتله فوق العاده زياتوالی راغلی دئ.

## سرمقاله



### ماليې وزارت د مشرتابه په حکم ستر مالياتي تخفيفونه وضع کړل

صنعتي او صادراتي هيواد ته ستنېدل د درېمي نړۍ هيوادونو ستره هيله ده او ټول سته ظرفيتونه دغي هيلي ته د رسېدو لپاره له ممکنو نوښتونو، وړتياوو او طرزالعملونو کار اخلي. په مالياتي او عوايدي قوانينو او دارنگه د راکړې ورکړې په مسايلو کي له خپلو ملتونو سره ښه تعمل کوي او د امکان تر بريده د حکومت او ملت ترمنځ د اسانتياوو رامنځته کولو پل جوړوي، چي وکولای سي د پرمختگ او ځان بسيايني نړدې اهدافو ته ورسېږي. د افغانستان اوسنی نظام (اسلامي امارت) هم د ځينو بې ساري طرحو او اسانتياوو په رامنځته کولو سره غواړي، چي دا هيواد دې يو صنعتي او صادراتي وي او په ځانگړې توگه په مالي برخه کي په خپلو پښو ودرېږي، صنعت ئې وده وکړي، صادرات ئې زيات او واردات ئې را لږ سي او د کورنيو توليداتو ودې ته خاصه پاملرنه وکړي. تاسو شاهدان ياست، چي په څو تېرو نږدې ورځو کي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د خصوصي سکتور د ودې او ملاتړ په موخه په اړينو مالياتي موضوعاتو کي اسانتياوې رامنځته سوې او د مالياتو په برخه کي خورا ښه تخفيف ورکړل سو. د رئيس الوزراء مرستيال، د معاشاتو کمېسيون د مشرتابه مقام استازو، د صنعت او سوداگرۍ او ماليې وزارت يو شمېر استازو په دې موخه پرلپسې ناستي درلودې، چي وکولای سي صنعتگرو، پانگوالو او سوداگرو ته په اړوندو مسايلو په ځانگړې توگه مالياتي برخو کي لازمي اسانتياوي رامنځته کړي او دوی بالآخره پر دې بريالي سول، چي د سيمي په کچه په مالياتي برخه کي تخفيف رامنځته کړي او د کورنيو او بهرنيو پانگوالو د را جلبولو لپاره خورا هڅوونکی گام پورته کړي. لکه څنگه چي يادونه مو وکړه، ددغو چارواکو ترمنځ په مالي موضوعاتو هر اړخيز بحثونه وسول او د اړتيا له مخي د خصوصي سکتور د بېلابيلو صنفونو او ټولنو استازي هم په اختصاصي مجلسونو کي و پوښتل سول او په پايله کي د توظيف سوي هيئت له لوري د ماليې وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ مالياتي ستونزي مشخصي سوې، حل لاري ورته پيدا او بيا د مشرتابه عالي مقام ته وړاندي سوې. د مشرتابه مقام د خپلي ستري او همېشنۍ لورېينې له مخي ورته سپارل سوي وړانديزونه تائيد کړل، چي بيا د هيواد د مسؤلينو له لوري د رسنيو له لاري په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي له ملت سره هم شريک سول. هڅو کوو، چي په لنډو ټکو کي ئې درته په ښه کړو.

پاته برخه په ۲هم مخ کي...

درنښت

اداره



د بوديجوي واحدونو لپاره د تخصيصاتي فورم د پړاوونو روزنيز ورکشاپ پيل سو

م ۲



د تورخم او سپين بولدک په گمرکونو کي قاچاق کېدونکي قيمتي ډبرې ونيول سوې

م ۲



افغانستان سره بهرنۍ پراختيايي او بشري مرستي

م ۳




اعلاميه در مورد تخفيف مالياتی از سوی مقام محترم رهبری

م ۴




دتيرو کلونو په پرتله دافغانستان په صادراتو کي فوق العاده زياتوالی راغلی

م ۳

# د بوديجوي واحدونو لپاره د تخصيصاتي فورم د پړاوونو روزنيز ورکشاپ پيل سو

د ماليې وزارت د خزاينو لوی رياست د نغدي پلان جوړوني رياست د بوديجوي واحدونو لپاره د تخصيصاتي فورم د پړاوونو روزنيز ورکشاپ پيل کړ. دغه ورکشاپ چي د ماليې وزارت په خيبر هال کي پيل سو، د خزاينو لوی رياست د نغدي پلان جوړوني رئيس پوهنيار ستارالدين معتصم، د تخصيصاتو د آمريت ستر سلاکار جهانزيب شريفي، د تخصيصاتو او تعهداتو آمر امان الله بهمني او د بوديجوي واحدونو استازو گډون پکي کړی وو. پوهنيار ستارالدين معتصم د دغه ورکشاپ د پرانيستني په وينا کي گډونوالو ته وويل، لکه څنگه چي د کال په جريان کي د فورمونو د تعديلاتو له امله يو لړ ستونزي رامنځته کيږي؛ نو اړينه وه چي د بودجوي واحدونو لپاره يو جامع، واضح او مشخص ورکشاپ په لاره واچوو. هغه زياته کړه، زموږ همکارانو تاسو ته د پروسې د چټکتيا او په خپل وخت ترسره کولو په موخه ټول بهيرونه تشريح کړي او تاسو هم بايد د ستونزو د چټک حل په موخه د همغږۍ يو ټيم رامنځته کړئ.
د تخصيصاتو او تعهداتو آمر امان الله بهمني د دغه آمريت د کليدي دندو لکه، د عادي او پراختيايي بوديجې د مالي پلان فورمه، د عادي او پراختيايي بوديجې P.O(د خريداری امر) فورم، د پراختيايي بوديجې د C.F (تعهد) فورم، د عادی او پراختيايي بودجې داخلي تعديل ب-۲۳ فورم، له ۲۱باب څخه د وزارتونو تنقيص او تزئيد، د پلورونکو د ثبت فورم (د بانکي حسابونو پرانيستل) او نور اړوند موضوعات د پريزنټېشن په ترڅ کي گډونوالو ته وړاندي کړل. په پای کي د گډونوالو پوښتني هم ځواب سوې.




## د اعلاميې پاته برخه :

په دې ناستو کې پر مالياتي اصولو باندي هر اړخيز بحثونه وشول، چې د اړتيا پر اساس د خصوصي سکټور د بېلابېلو صنفونو او ټولنو استازي هم په اختصاصي مجلسونو کې و پوښتل شول او په پايله کې د توظيف شوي هيئت له لوري د ماليې وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ مالياتي ستونزي مشخصي، حل لاري ورته پيدا او د مشرتابه عالي مقام ته وړاندي شوې. د مشرتابه عالي مقام د خصوصي سکټور د ملاتړ او ودې په موخه وړاندي شوي وړانديزونه د (۳۷۵۸) گڼې او (۱۴۴۴/۱۰/۲۳ هـ ق) نېټې حکم په وسيله په لاندي ډول تائيد کړل:
۱. د صنعتي سکټور د ودې او پراختيا لپاره د دې سکټور (۴٪) ربعواره انتفاعي ماليه (۲٪) ته راټيټه شوه.
۲. د صنعت د ملاتړ او ودې په موخه کرنيز، صنعتي او سوداگريزو سکټورونو ته (۷٪) قراردادي موضوعي ماليه معاف شوه.
۳. د خصوصي پوهنتونونو، مدارسو او ښوونځيو لپاره ( ۴٪) انتفاعي ربعواره ماليه د يو کال (۱۴۰۲ مالي کال) لپاره معاف شوه.
۴. ټول هغه بنسټونه (له بانکونو، مخابراتي او ټکنالوژي، امنيتي، هوايي، خدماتي، دولتي تصديو او شرکتونو پرته) چې د مالياتي اصولو له مخي د بررسۍ وړ دي، هغوی ته اختيار ورکړل شو، چې که څوک د فروشاتو له سرجمع څخه ۰،۵٪ د امارت حساب ته جمع کوي او که کوم نهاد يا بنسټ په دې نورم باندي راضي نه وي، نو بيا دې په عادي ډول خپله بررسي وکړي (په دې پرېکړه کې به له فتحي مخکې ټولي د بررسۍ وړ دوسيې د اظهارنامې د وړاندي کولو له نېټې څخه تر ۵ کلونو پوري د اعتبار وړ وي).
۵. د ماليې وزارت به د ۹ مياشتو په جريان کې د ۵ کلونو د بررسي موده، يو کال ته راټيټوي.
٦. د ماليې وزارت داخلي تفتيش او د تفتيش عالي اداره دې پر شرکتونو بېرون نويسي نه کوي، بلکې د اداراتو اجراآت دې بررسي کړي، د نيمگړتيا په صورت کې دې اداراتو ته اصلاحي لارښووني وکړي.
۷. د ماليې وزارت مؤظف دی، ترڅو هغه دوسيې چې له ولايتونو څخه مرکز ته را انتقال شوي وې، په مرکز کي د مخکنيو حسابونو د تصفيه کېد وروسته دې بېرته خپلو ولايتونو ته انتقال او د يو خاص ميکانيزم په وسيله بررسي کړي.
۸. د تېلو او گازو د پمپ سټېشنونو اړوند د پخوانۍ اداري د وخت بررسۍ معاف شوه او ياد سکټور به د نورو کلونو لپاره (۰،٦) افغانۍ في ليټر ثابته ماليه د اسلامي امارت حساب ته ورکوي.
۹. سوداگرو او صنعت کارانو ته دې د مرکز په څېر په هر زون کې د پاسپورټونو د توزيع سهولتونه برابر شي.
۱۰. د بهرنيو چارو او سوداگرۍ او صنعت وزارتونه مؤظف دي، چې د سوداگرو او صنعتگرو د ويزو اخيستلو ستونزه د ټولو اړوندو هېوادونو له سفيرانو سره شريکه کړي او په پايله کې د سوداگرو او صنعتگرو د ويزو ستونزه حل کړي.
۱۱. د بانکونو د موجوده حالت په نظر کې نيولو سره دې د پيسو په اجراء کولو کې تدريجي اقدام وشي.
۱۲. د صرافانو د مالياتو په اړه د ماليې وزارت لخوا له صرافانو سره وروستۍ پرېکړه تائيد ده او له دې وروسته دي ماليه د اظهارنامې په وسيله ورکړي. (توافق دا وو، چې د ۱۴۰۱ مالي کال وروسته او د ۱۴۰۲ مالي کال له پيل څخه به ټول صرافان ماليه د اظهارنامې په وسيله ورکوي).
۱۳. زاړه جوازونه چې پخوا صادر شوي دي او کلونه کېږي تمديد شوي نه دي، د مشخص کېدو لپاره دې يوه گډه کاري کمېټه جوړه او بيا د دغو جوازونو د لغوه کېدو لپاره دي د ماليې او سوداگرۍ او صنعت وزارتونو د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د دې شرکتونو مسؤلينو ته وخت ورکړل شي، چې د ټاکلي وخت تر پوره کېدو مخکې خپل مسؤليتونه خلاص او يا دې هم خپل غيرفعال شرکتونه فعال کړي، د وخت د پوره کېدو په صورت کې به بيا دواړه وزارتونه د لغوه کېدو تصميم نيسي.
۱۴. د سوداگرو او صنعتکارانو د اسانتيا لپاره ټولې اړوندې امارتي ادارې مکلفې دي، ترڅو په ټولو بندرونو کې د اسان خدمت يا واحد چتر مرکزونه فعاله کړي او کاري وخت يې د گمرکونو د کاري وخت تابع وگرځوي.
۱۵. د ماليې وزارت او د خصوصي سکټور څلور خونې مکلفې دي، ترڅو د دواړو لوريو ترمنځ د ستونزو د دايمي حل لپاره يوه گډه دايمي کاري کمېټه رامنځته کړي او د خصوصي سکټور په مالياتي او گمرکي ستونزو بحث وکړي او د نه حل کېدو په صورت کې يادې ستونزې له مشرانو سره شريکې کړي.
۱٦. د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، چې د خصوصي سکټور په همکارۍ د هېواد په مختلفو ولايتونو کې شته سړې خونې فعالې او د نويو خونو د ودانولو په موخه اقدام وکړي.
۱۷. د جوازونو د توزيع لپاره د تجارت او صنعت وزارت له لوري دي، د واحد چتر جوړه شوې طرحه تائيد او تطبيق شي.
۱۸. تجارانو ته د سهولت او د وخت د ضايع کېدو د مخنيوي په موخه د جوازونو د معياري وېش لپاره دې د ماليې، سوداگرۍ او صنعت وزارتونو ترمنځ برېښنايي سيستمونه يو له بله سره وتړل شي.
۱۹. د کاري چټکتيا او مراجعينو ته د اسانتيا په موخه د ماليې او سوداگرۍ او صنعت وزارتونو ترمنځ د مراسلاتو د برېښنايي کېدو لپاره ميکانېزم جوړ او عملي شي.
۲۰. د جوازونو د وېش لپاره دې د متخصصينو کمېټه جوړه شي، چې د سوداگرۍ سکټور په گډون هر سکټور ته د جواز تر ورکولو مخکې د دوی ترتيب شوی سوداگريز (بزنس) پلان وارزوي.
۲۱. د جواز د ورکړې په وخت کې د ماليه ورکونکې د پېژندنې گڼه (TIN)د بنسټ (شرکت) په نامه د اړيکو فعاله شمېره، د بنسټ په نامه برېښنايي پته، د بنسټ پُستي او د دفتر دقيقې پتې او د بنسټ په نامه ځانگړی بانکې حساب چې يوازې د بنسټ يا شرکت پيسې ورته راشي (نه غيرتجارتي پيسې) شرط دی.
۲۲. د واقعي تجارانو د تثبيت لپاره د سوداگرۍ جواز تر اخيستلو مخکې اخيستونکی بايد پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانۍ په بانکې اکونټ کې د تضمين په شکل بلاک کړي.
۲۳. جعلي جوازونه چې په هره اداره (گمرکونو، مستوفيتونه او نورو ادارو) کې پيدا شول هلته دي قيد او عاملين دې عدلي او قضايي ارگانونو ته معرفي شي او که جوازونه د تخلف لپاره کارېدل، نو جوازونه او مالکين دې په تور ليست کې شامل شي، ترڅو په راتلونکې کې د جوازونو د ورکړې حق ترې سلب شي او هم دي عاملين عدلي او قضايي ارگانونو ته معرفي شي.
۲۴. د مشتريانو پيژندلو (Know your customer) فورمه، چې په هغه کې د دواړو وزارتونو مشتريان، چې جوازونه يې اخيستي او ماليه ورکوي له سره را غونډل کېږي او موجوديت يې تثبيتېږي؛ بايد جوړه او عملي شي.
۲۵. په گمرکونو کې د اسنادو د پړاوونو ترسره کولو لپاره يو استازی کولای شي حد اکثر د دريو شرکتونو اسناد طی مراحل کړي.
۲٦. په سرعت سره د جوازونو د ورکړې لپاره دې د جواز د ورکړې په مرکز کې د احصايې محترمې ادارې ته يوه څانگه د برېښنايي تذکرو د جوړېدو لپاره ځانگړې کړای شي، ترڅو د احصايې د ادارې له لوري د برېښنايي تذکرې د ورکړې څانگه فعاله شي.
۲۷. د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت به دوا پاشل (Fumigation) اجباري نه، بلکې اختياري کوي.

شتمني
SHTAMANAI
اوونيزه

## د تورخم او سپين بولدک په گمرکونو کي قاچاق کېدونکي قيمتي ډبري ونيول سوې





د تورخم گمرک د صادراتو برخي منسوبينو يوه اندازه قيمتي ډبري، چي په يوې بار وړونکي محمولي کي ځای پر ځای سوي وې، کشف او ترلاسه کړې. په دې ډبرو کي چي (۴.۱۸) کيلو گرامه د بيروج، (۹۷.۵۰) کيلو گرامه د ليتيم، (۵.۳۰) کيلو گرامه د گل سولر او (۹۳۰) کيلو گرامه د نفرايټ ډبري شاملي وې. قاچاق وړونکي غوښتل پاکستان ته ئي ولېږدوي. همدا راز د کندهار ولايت د سپين‌بولدك سرحدي گمرك د پلټني ټيم مجاهدينو، د تشريح او بررسی برخي مامورينو په گډو هڅو سره په يو لوی باروړونکي موټر کي شاوخوا (۲۰۰) کيلوگرامه مختلف‌النوعه قيمتي ډبري ،چي دا هم گاونډي هيواد ته قاچاق کېدلې، کشف او ونيول سوې. په دواړو پېښو کي تورن کسان نيول سوي او د نورو پوښتنو په موخه اړوندو ادارو ته سپارل سوي دي.

## د سرمقالې پاته برخه :

د صنعتي سکټور د ودي لپاره د دې سکټور (۴٪) ربعواره انتفاعي ماليه (۲٪) ته راټيټه سوه، د صنعت د ملاتړ په موخه کرنيز، صنعتي او سوداگريزو سکټورونو ته (۷٪) قراردادي موضوعي ماليه معاف سوه، د خصوصي تحصيلي او ښوونيزو مراکزو لپاره ( ۴٪) انتفاعي ربعواره ماليه د روان کال لپاره معاف سوه، هغه بنسټونه، چي د مالياتي اصولو له مخي د ارزوني وړ دي، اختيار ورکړل سو، چي د پلور له سرجمع څخه به (۰،۵٪) د امارت حساب ته ورکوي، د ماليې وزارت به د (۹) مياشتو په جريان کي د (۵)کلونو د ارزوني موده، يو کال ته کموي، د تېلو او گازو د پمپ سټېشنونو په برخه کي د پخوانی اداري ارزونه معاف سوه او ياد سکټور به د راتلونکو کلونو لپاره (۰،٦) افغانی في ليټر ثابته ماليه د دولت حساب ته ورکوي، سوداگر او صنعت کارانو ته به په هر زون کي د پاسپورټونو د وېش چاره برابرېږي، د بانکونو د موجوده حالت په نظر کي نيولو سره به د پيسو په اجراء کي تدريجي اقدام کېږي. او همدا رنگه د سوداگرو او صنعتکارانو لپاره د امارت اداري مکلفي دي، ترڅو په ټولو بندرونو کي د (اسان خدمت) يا واحد چتر مرکزونه فعاله کړي او کاري وخت ئي د گمرکونو د کاري وخت تابع وگرځوي، د ماليې وزارت او د خصوصي سکټور څلور خوني مکلفي دي، ترڅو د دواړو لوريو ترمنځ د ستونزو د دايمي حل لپاره کاري کمېټه جوړه کړي، د خصوصي سکټور په مالياتي او گمرکي ستونزو بحث وکړي او د نه حل په صورت کي ئې له مشرانو سره شريکې کړي، سوداگرو ته د وخت د تلف کېدو د مخنيوي په موخه دي د جوازونو د معياري وېش لپاره د ماليې او سوداگرۍ او صنعت وزارتونو ترمنځ برېښنايي سيستمونه وصل سي، د ريښتينو سوداگرو د تثبيت لپاره د سوداگرۍ جواز تر اخيستلو مخکي اخيستونکی بايد پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانی په بانکي اکونټ کي د تضمين په بڼه ولري او بل دا چي په گمرکونو کي د اسنادو د پړاوونو ترسره کولو لپاره يو استازی کولای سي حد اکثر د دريو شرکتونو اسناد طی مراحل کړي. د نظام او ملت بقا د يوه او بل په ښو اړيکو او همکاری کي ده.

شتمنی SHTAMANAI
اوونيزه

# افغانستان سره بهرنۍ پراختیایي او بشري مرستي

## له ٢٠٠٢ – ٢٠٢١ زکال پورې بهرنۍ پراختیایي مرستي او اغیزې ئې

لکـه څرنګـه چـي ټولـو تـه جوتـه ده، افغانسـتان د یـو مهـم اقتصـادي او سیاسي جغرافیایـي موقعیـت پـه درلودلـو سره، تـل د نـړۍ د زبرځواکـو هیوادونـو د پـام وړ مرکـز پاتـه سـوی دی، لـه همـدې کبلـه د تاریـخ پـه اوږدو کـي لـه لـوړو ژورو سره مخامـخ سـوی دی. د څـو لسـیزو پـه اوږدو کـي، د ګڼـو بهرنیـو هیوادونـو د یرغلونـو او شـخړو لـه املـه د افغانسـتان د نـورو برخـو د زیانمنېـدو تـر څنـګ، اقتصـادي بنسـټونه ویجـاړ سـوي او سـخت زیانمـن سـوي دي، چـي د دغـو بنسـټونو بیارغـول، یـو باثباتـه او پیـاوړي اقتصـاد تـه اړتیـا لـري. پـه اوسـني عـصر کـي هیـڅ یـو هیـواد نـسي کـولای پـه یـوازي توګـه ټـولي چـاري پـه ښـه توګـه تـر سره کـړي او خپلـو موخوتـه ورسـیږي. د کمـي ودي هیوادونـه لـه کورنیـو عوایـدو نـه سي کـولای غټـي بنسـټیزي پـروژې، چـي د خلکـو پـه ژونـد کـي لـه اقتصـادي پلـوه پـه مسـتقیمه او غیـر مسـتقیمه توګـه اغیـزې لـري تمویـل کـړي؛ چـي پـه دې اسـاس بهرنیـو پراختیایـي مرسـتو تـه اړتیـا لیـدل کیـږي.

**له ٢٠٠٢ – ٢٠٢١ زکال پورې بهرنۍ پراختیایي مرستي او اغیزې ئې:**

بهرنـۍ نړیـوالي مرسـتي د یـو هیـواد پـه اقتصـادي ودي او پرمختـګ کـي مثبتـي اغیـزي لـري، د همـدې مرسـتو پـر مـټ کورنـۍ ناخالصـه ګټـه او د سـړي سر ګټـه لوړیـږي، د بـې روزګاري او بـې وزلـۍ کچـه ټیټیـږي، د وګـړو د ژونـد سـطحه لوړیـږي او پـه ټولـه کـي د اقتصـاد د غوړیـدو او وګـړو تـه ئـې د هوسـایني سـبب ګرځـي. د دو لسـیزو پـه اوږدو کـي بهرنیـو مرسـتو او اقتصـادي اغیـزو تـه ئـې کتنـه کـوو: لـه ٢٠٠٢ زکال څخـه تـر ٢٠٢١ کال پـوري د افغانسـتان سره د مختلفـو کنفرانسـونو پـه تـرڅ کـي دوه اړخیـزه او څـو اړخیـزه مرسـتندویانو او مـالي نړیوالـو بنسـټونو شـاوخوا ١٦٥ میلیـارده



امریکایـي ډالـره پراختیایـي مرسـته تـر سره کـړې ده، چـي لـه لاري یـې پـه افغانسـتان کـي، د کـرني، روغتیـا، ټرانسـپورټ، پوهنـي، اقتصـاد او نـوري ګڼـي بنسـټیزي پراختیایـي پـروژې تمویـل او تـر سره سـوي دي، چـي د هیـواد د اقتصـادي پراختیـا، د ظرفیتونـو رامنځتـه کولـو او د بیـکارۍ د کچـي پـه کمولـو کـي د پـام وړ رول لوبولـی دی. د بیلګـي پـه توګـه پـه افغانسـتان کـي د نړیـوال بانـک او نـورو مرسـتندویه هیوادونـو او بنسـټونو د یـو شـمېر غټـو پـروژو څخـه یادونـه کـوو. نړیـوال بانـک د افغانسـتان سره د دوه لسـیزو پـه مـوده کـي پـه ګڼـو پراختیایـي پـروژو کـي پـه میلیاردونـو امریکایـي ډالـره مرسـته کـړي دي، چـي پـه لانـدي ډول لیـکل کیـږي:

**د روغتیا په برخه:**

- صحتمنـدي پـروژه: د ٦٠٠ میلیونـو امریکائـي ډالـرو پـه ارزښـت د نړیـوال بانـک لـه مهمـو او غټـو پـروژو څخـه ده، چـي د روغتیـا سـکټور د پیاوړتیـا، د روغتیایـي کارکوونکـو ظرفیـت لوړولـو او روغتیایـي چوپړونـو تـر څنـګ، لـه اقتصـادي پلـوه د خلکـو پـه ژونـد مثبتـي اغیـزي در لـودې.

**د کلیو او بیا رغوني برخه:**

- ولـسي تـړون پـروژه: د ٨٦٥ میلیونـه امریکایـي ډالـرو پـه ارزښـت د نړیـوال بانـک یـو لـه لویـو او مهمـو پـروژو څخـه وه، چـي د کلیـو پراختیـا، کـرني، د بېوزلـۍ د کچـي ټیټولـو، د کارمونـدني او د خلکـو ژونـد د هوسـایني او اقتصـادي پیاوړتیـا پـه برخـه کـي موثـره او اغېزمنـه تمامـه سـوې ده.

د نړیـوال بانـک سربیـره د امریـکا متحـده ایالاتـو، آسـیا پراختیایـي بانـک، اسـلامي پراختیایـي بانـک، آلمـان فـدرالي حکومـت او داسي نـورو هیوادونـو او مـالي نړیوالـو بنسـټونو لخـوا د پراختیایـي، اقتصـادي، ټرانسـپورټ، بریښـنا، کـرني، پوهنـي او نـورو برخـو کـي پـه میلیاردنـو امریکایـي ډالـره پراختیایـي مرسـتي تـر سره کـړي، چـي د افغانسـتان د آبـادۍ تـر څنـګ د خلکـو پـر ژونـد یـې مثبتـي پایـلي در لـودې. پـه ټوله کـي نړیـوالي پراختیایـي مرسـتي د وروسـته پـاتي یـا د کمـي ودي هیوادونـو پـه اقتصـاد او د خلکـو ژونـد پـه ښـه والي مثبتي اغیزي لـرلي دي.

پاته برخه راتلونکې ګڼه کې...

## کورس های آموزشی زبان انگلیسی و کمپیوتر برای کارمندان ریاست های مرکزی و سواد آموزی برای اجیران وزارت مالیه دایر گردید

ریاسـت منابـع بـشری بـه همـکاری ریاسـت عمومـی تفتیـش داخلـی وزارت مالیـه کـورس آموزشـی زبـان انگلیسـی و کمپیوتـر بـرای کارمنـدان ریاسـت هـای مرکـزی و کـورس سـواد آمـوزی بـرای اجیـران ایـن وزارت طـی مراسـمی در خیبرهـال دایـر نمـود. در ایـن مراسـم، انجنیـر عبداللطیـف خالـد، رییـس عمومـی تفتیـش داخلـی وزارت مالیـه، محمـد انـس مجاهـد، آمـر ارتقـای ظرفیـت ریاسـت منابـع بـشری و شـماری از کارمنـدان و اجیـران ایـن وزارت اشـتراک داشـتند. محمـد انـس مجاهـد، آمـر آمـوزش و ارتقـای ظرفیـت ریاسـت منابـع بـشری در سـخنان افتتاحیـه ایـن کـورس هـا گفـت، در پهلـوی برنامـه هـای مختلـف آموزشـی کوتـاه مـدت مجـازی، ایـن بـار برنامـه دراز مـدت آمـوزش زبـان انگلیسـی و سـواد آمـوزی راه انـدازی گردید تا کارمنـدان وزارت مالیه با اسـتفاده از ایـن برنامـه هـا بتواننـد زبـان انگلیسـی و کمپیوتـر بخاطـر کسـب معلومـات و ارتقـای ظرفیـت شـان و اجیـران بتواننـد مهـارت خوانـدن و نوشـتن را یـاد بگیرنـد. وی اضافـه نمـود کـه زبـان یـک وسـیله افهـام و تفهیـم اسـت و بـا اسـتفاده از کـورس زبـان انگلیسـی و کمپیوتـر کـه بـرای شـما راه انـدازی گردیده بایـد علاوه بـر کارهـای روتیـن، معلومـات تـان را در عرصـه هـای اکادمیـک بـالا ببریـد. انجنیـر عبداللطیـف خالـد، رییـس عمومـی تفتیـش داخلـی طـی سـخنانش گفـت، ریاسـت منابـع بـشری یـک اقـدام خوبـی را بـرای ارتقـای ظرفیـت کارمنـدان و اجیـران انجـام داده اسـت، آمـوزش زبـان انگلیسـی و کمپیوتـر یـک امـر مهـم و حیاتـی بـرای ارتقـای ظرفیـت نیـروی انسـانی اسـت زیـرا علـوم امـروزی اکـثراً بـه زبـان انگلیسـی بـوده کـه بـا اسـتفاده از ایـن برنامـه، کارمنـدان مـی تواننـد از علـوم امـروزی بهـره بـرده و مصـدر خدمـت بـه وطن گردنـد.




| د سوداګریز شاخص | احصائیه ١٣٩٩ کال | احصائیه ١۴٠٠ کال | احصائیه ١۴٠١ کال | زیاتوالی ١۴٠١ له ١٣٩٩ سره مقایسه | زیاتوالی ١۴٠١ له ١۴٠٠ سره مقایسه |
|---|---|---|---|---|---|
| صادرات | | | | | |
| د محمولو تعداد | ۵۲,٩٠١ | ١٢٢,۴٠١ | ١٨٩,٠٨٨ | ٪٢۵٧ | ٪۵۴ |
| وزن په ټن | ٩٦٦,۵٨٦ | ٣,٢١۴,٣٢٩ | ۵,٢٣٦,۵٩۵ | ٪۴۴٢ | ٪٦٣ |
| ګمرکي ارزښت په میلیارد افغانۍ | ۵٩.٩١ | ٩٩.٣٣ | ١٧٠.۴٣ | ٪١٨۴ | ٪٧٢ |

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت اړوند د ١٦ مې ناحیه د نساجي بګرامي په تعمیر کي د (٦) بابه خونو او (٢۴٨،٢٢) متره مربع په مساحت ساحې د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیـې وزارت د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي چـي د کابـل ولایـت (١٦) مـې ناحیـه اړونـد د بګرامـي نسـاجي پـه تعمیـر کـي (٦) بابـه خونـې او (٢۴٨،٢٢) مـتره مربـع پـه مسـاحت سـاحه چـي میاشـتنۍ کرایـه یـې (٧١۵٠) افغانـۍ دی د مزایـدي لپـاره اعـلان تـه سـپاري. ټـول هغـه حکمـي او حقیقـي اشـخاص چـي غـواړي نومـوړی ملکیـت لـه ذکـر سـوي مبلـغ څخـه پـه لـوړ کرایـه ونیـسي کـولای سي خپـل غوښـتنلیکونه د اعـلان د خپردیـدو څخـه وروسـته د (١۴) ورځـو پـه مـوده کـي د دولتـي املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسپاري او د یـاد سـوي ملکیـت شرطپانـه د اسـنادو د ارزونـې او لومـړي قیمـت تـه پـه کتـو تـر لاسـه کـړي.

### داو طبی ٣٦ قلم قرطاسیه باب غیر مطبوع شرکت دولتی حفظ و مراقیب مکروریانها

شرکـت دولتـی حفـظ و مراقبـت مکروریانهـا بـرای سـال ١۴٠٢ بـه تعـداد (٣٦) قلـم قرطاسـیه بـاب غیـر مطبـوع مـورد ضرورت خویـش را از طریـق مناقصـه بـه اعـلان دواطلبـی مـی سـپارد؛ شرکـت هائیکـه خواهـش اکـمال آنـرا داشـته باشـند در خواسـت هـای خویـش را تـا مـدت(٢١) یـوم بعـد از نـشر اعـلان بـه مدیریـت تـدارکات ایـن شرکـت بسـپارند و شرطنامـه را در بـدل (٣٠٠٠) هـزار افغانـی پـول بـدون بـاز گذشـت اخـذ و خـود ایشـان الـی مـدت(٢١) روز بعـد از نـشر اعـلان در پروسـه آفرکشـایی حـاضر گردنـد قابـل ذکـر اسـت تضمیـن نقـدآ اخـذ مـی گـردد.

### د آفتنتو مختلط دولتي شرکت د سهمدارانو خبرتیا!

د آفتنتو مختلـط دولتـي شرکـت د اساسـنامې پـه نظـر کـي نیولـو سره یـو سـوداګریز شرکـت دئ، چـي اوس مهـال د دوراني پانګـي د نشـتون لـه کبلـه اساسـي (سـوداګریز) فعالیـت نـه لـري او لـه بحـران سره مـخ دئ، اوس مهـال د یـاد شرکـت عوایـد د جایدادونـو لـه کرایـې څخـه پـه لاس راځـي، چـي خپـل لګښـتونه لـه همدغـو عوایـدو څخـه تـر سره کـوي او هـر کال لـه ضرر سره مـخ وي. د اسـلامي امـارت د اړونـد (ذیدخـل) رهـبرۍ د هدایـت پـه اسـاس یـاد شرکـت بایـد بیرتـه خپـل اصـلي فعالیتونـه پیـل کـړي او د اصـلي کړنـو د نـه پیلېـدو پـه صـورت کـي بـه اړونـده رهـبري د شرکـت پـه اړه خپـل تصمیـم ونیـسي. د آفتنـو شرکـت رهـبري د یـاد شرکـت لـه ټولـو محترمـو کورنیـو او بهرنیـو سـهمدارانو څخـه پـه درنښـت غوښـتنه کـوي، ترڅـو د شرکـت د سرنوشـت او اسـاسي کړنـو دپیـل کېـدو لپـاره د خبرتیـا د نـشر څخـه تـر (١۴٠٢)کال د جـوزا میاشـتي تـر (٢٠) نېټـې پـوري د یـاد شرکـت مرکـزي دفـتر تـه حـاضر او وروسـتی تصمیـم ونیـسي. د سـهمدارانو د نـه حاضرېـدو پـه صـورت کـي کـه د افغانسـتان اسـلامي امـارت د اړونـد رهـبرۍ لـه لـوري کـوم تصمیـم ونیـول سـو، بیـا د شـکایت حق نه لري.



**شتمنۍ SHTAMANAI**

اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت

مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل

مرستیال: حبیب الله حُبیب

د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.a

ټویټر: @ afghanistanmof

یوټیوب: afghanistan mof

شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)




د ماليې وزارت

د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

# د ثور ۲۰ مه

## د صادراتو ملي ورځې په وياړ



### په ۱۴۰۱ مالي کال کې له هیواد څخه د ترسره سوو صادراتو ټولیز ارقام!

| شمېره | د توکي نوم | وزن پر ټن | د توکو گمرکي ارزښت په میلیارد افغانی | په صادراتو کې فیصدی |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | میوه جات | ۵۸۹،۲۰۷ | ۵۲.۲۰ | ٪۳۰،٦ |
| ۲ | ډبرو سکاره | ۳،١٦۳،۲۱۷ | ۴۴.۲۸ | ٪۲٦،۰ |
| ۳ | سبزیجات او حبوبات | ۵۳٦،۴۹۵ | ١٦.١۳ | ٪۹،۵ |
| ۴ | پخته (پنبه) | ۹۰،۷۳۴ | ۱۴.۸۵ | ٪۸،۷ |
| ۵ | هنگ (انجه) | ٦،۷۴۱ | ۱۳.۲۲ | ٪۷،۸ |
| ٦ | زیره او زعفران | ۳۹،۰۳۴ | ٦.۹۰ | ٪۴،۰ |
| ۷ | کرنیز تخمونه | ٦٦،۳۰۲ | ۵.۵٦ | ٪۳،۳ |
| ۸ | فرشباب | ۷،۰۷۴ | ۲.۳٦ | ٪۱،۴ |
| ۹ | د تالک ډبري | ۴۳۳،۴۷۴ | ۲.۰۳ | ٪۱،۲ |
| ۱۰ | ممبلي | ۵،٦۴۳ | ۰.۹۸ | ٪۰،٦ |
| ۱۱ | نور اجناس | ۲۹۸،٦۷۴ | ۱۱.۹۱ | ٪۷،۰ |
| مجموع | | ۵،۲۳٦،۵۹۵ | ۱۷۰.۴۳ | ٪۱۰۰ |

www.mof.gov.af afghanistanmof

د ماليې وزارت

د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست


# د ثور ۲۰ مه

## د صادراتو ملي ورځې په وياړ




### د هغو هیوادونو نوملړ چي په ۱۴۰۱ کال کي له افغانستان څخه ورته زیات صادرات ترسره سوي دي:

| شمېره | هیواد | وزن په ټن | د توکو گمرکي ارزښت په میلیارد افغانی | په صادراتو کي فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | پاکستان | ۴،۸۳۰،۷۹۱ | ۱۰۸.٦٤ | ٪٦۳،۷۵ |
| ۲ | هندوستان | ۸۷،۱۳٤ | ۳٦.۸۴ | ٪۲۱،٦۲ |
| ۳ | ازبکستان | ۴۸،۲۵۸ | ۴.۳۳۳ | ٪۲،۵٤ |
| ۴ | تاجکستان | ۷۷،۰۸٦ | ۳.۴۵۵ | ٪۲،۰۳ |
| ۵ | امارات متحده عرب | ۲۵،٦۱۸ | ۳.۲٦۷ | ٪۱،۹۲ |
| ٦ | چین | ١٦،۷۴۱ | ۲.۵۳۵ | ٪۱،۴۹ |
| ۷ | ایران | ۳۲،۵۱۲ | ۲.۴٦۳ | ٪۱،۴۵ |
| ۸ | عراق | ۲۷،۲۷۸ | ۲.۰۵۴ | ٪۱،۲۱ |
| ۹ | ترکیه | ۲۷،۹۷۷ | ۱.۵٦۲ | ٪۰،۹۲ |
| ۱۰ | قزاقستان | ۱۸،۳۵٦ | ۰.۹۵۹ | ٪۰،۵٦ |
| ۱۱ | نور هیوادونه | ۴۴،۸۴۳ | ۴.۳۱۷ | ٪۲،۵۳ |
| مجموع | | ۵،۲۳٦،۵۹۳ | ۱۷۰.۴۳ | ٪۱۰۰ |


www.mof.gov.af afghanistanmof




وزارت مالیه

ریاست ارتباط و آگاهی عامه

PR No: 118 1402 -02- 23

## اعلامیه در مورد تخفیف مالیاتی از سوی مقام محترم رهبری

از جانب مقام عالی رهبری امارت اسلامی به منظور رشد و حمایت سکتور خصوصی تسهیلات لازم در موضوعات مهم مالیات ایجاد گردیده است.

بر اساس حکم خاص شماره (۳۰۲۹) مؤرخ (۱۴۴۴/۸/۲۵) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء، و اشتراک اعضای کمیسیون معاشات و تشکیلات، نماینده مقام رهبری مولوی احمد جان بلال، سرپرست وزارت صنعت و تجارت، نمایندگان کمیسیون اقتصادی، معاون وزارت مالیه و مسئولین ریاست ها مربوطه و نمایندگان بخش های مختلف سکتور خصوصی جلسات کاری متواتر برگزار کردند.

در این جلسات بحث های همه جانبه روی اصول مالیاتی صورت گرفت که بر اساس ضرورت از نمایندگان اصناف و اتحادیه های مختلف سکتور خصوصی نیز در جلسات اختصاصی پرسش صورت گرفت و در نتیجه از سوی هیئت توظیف شده مشکلات مالیاتی میان وزارت مالیه و سکتور خصوصی مشخص، راه ها حل شان دریافت و به مقام عالی رهبری ارائه گردید.

مقام عالی رهبری پیشنهادات ارائه شده برای حمایت و رشد سکتور خصوصی را به وسیله حکم شماره (۳۷۵۸) و مؤرخ (۱۴۴۴/۱۰/۲۳ هـ ق) بطور ذیل تائید نمود:

۱. برای رشد و توسعه سکتور صنعتی، مالیه ربعوار انتفاعی از (۴٪) به (۲٪) کاهش یافته.

۲. به منظور حمایت و رشد صنعت، (۷٪) مالیه قراردادی موضوعی برای سکتور های زراعتی، صنعتی و تجارتی معاف گردید.

۳. (۴٪) مالیه ربعوار انتفاعی برای پوهنتون ها، مدارس و مکاتب خصوصی به مدت یک سال (سال مالی ۱۴۰۲) معاف گردید.

۴. تمام نهادها (به استثنای بانک ها، مخابرات و تکنالوژی، امنیتی، هوانوردی، خدماتی، تصدی ها و شرکت های دولتی) که طبق اصول مالیاتی قابل بررسی هستند، برای شان اختیار داده شد، تا اگر کسی (۰،۵٪) را از سرجمع فروش به حساب امارت تسلیم کند و اگر نهاد یا مؤسسه‌ای از این نورم رضایت نداشته باشد، بررسی خویش را باید به شکل عادی انجام دهند (در این تصمیم تمامی دوسیه های قابل بررسی قبل از فتحه، از مورخ ارائه اظهارنامه الی ۵ سال معتبر خواهد بود).

۵. وزارت مالیه مدت بررسی ۵ ساله در جریان ۹ ماه را به یک سال کاهش می دهد.

٦. تفتیش داخلی وزارت مالیه و اداره عالی تفتیش نباید بر شرکت ها بیرون نویسی کند؛ بلکه اجراآت ادارات را بررسی نمایند، در صورت کمبودی به ادارات رهنمایی های اصلاحی را انجام بدهد.

۷. وزارت مالیه مکلف است تا دوسیه های را که از ولایت به مرکز انتقال داده شده، بعد از تصفیه حسابات گذشته در مرکز دوباره به ولایات انتقال داده و بر اساس یک میکانیزم خاص بررسی آنها را انجام دهند.

۸. بررسی وخت اداره قبلی مربوط پمپ ستیشن های نفت و گاز معاف گردید و سکتور مذکور برای سال‌های آینده، باید از فی لیتر (۰،٦) افغانی مالیه ثابت به حساب امارت اسلامی تحویل دهند.

۹. برای تجار و صنعتکاران مانند مرکز در تمام زون های کشور تسهیلات توزیع پاسپورت ایجاد گردد.

۱۰. وزارتخانه ها امور خارجه و صنعت و تجارت مؤظف اند تا مشکل اخذ ویزه های تاجران و صنعتکاران را با سفرای تمام کشورهای ذیربط شریک سازند و در نتیجه مشکل ویزه های تجار و صنعتکاران را حل نمایند.

afghanistanmof ۱ www.mof.gov.af

با نظر داشت وضعیت کنونی بانک ها در اجرای پول اقدام تدریجی صورت بیگیرد.

۱۲. اخرین فیصله وزارت مالیه در رابطه به مالیات صرافان تائید است و بعد ازین مالیات شان را به وسیله اظهارنامه تحویل نمایند (توافق بر آن شده بود که بعد از سال ۱۴۰۱ و از شروع سال ۱۴۰۲ تمام صرافان مالیات خویش را از رویت اظهارنامه تحویل می کنند).

۱۳. برای مشخص سازی جوازهای که قبلا صادر شده بود و سالها تمدید نشده است، یک کمیته کاری مشترکی تشکیل گردد و برای لغو این جواز طی نشست خبری هر از سوی دو وزارتخانه (مالیه و صنعت و تجارت) به مسئولین شرکت های مذکور فرصت داده شود تا قبل از مورخ تعیین شده مسئولیت های خویش را تمام نموده و یا شرکت های غیرفعال خود را فعال کنند و در صورت اتمام وقت تعیین شده، هر دو وزارتخانه تصمیم به لغو آن را خواهند گرفت.

۱۴. تمام ادارات امارتی مربوطه مکلف اند تا جهت رفاه تجار و صنعتکاران، مراکز آسان خدمت یا چتر واحد را در تمامی بنادر فعال نموده و اوقات کاری شان را تابع اوقات کاری گمرکات بگردانند.

۱۵. وزارت مالیه و اتاق های چهارگانه سکتور خصوصی مکلفند، برای حل دایمی مشکلات جانبین یک کمیته کاری دایمی مشترک ایجاد نماید و مشکلات مالیاتی و گمرکی سکتور خصوصی را مورد بحث قرار داده و در صورت عدم حل، مشکلات مذکور با بزرگان شریک ساخته شوند.

١٦. به وزارت زراعت، آبیاری و مالداری وظیفه سپرده شد تا به همکاری سکتور خصوصی سردخانه های موجوده را فعال نموده و برای سردخانه های جدید در ولایات مختلف کشور اقدام نمایند.

۱۷. طرح ترتیب شده چتر واحد از سوی وزارت صنعت و تجارت برای توزیع جواز ها باید تائید و تطبیق گردد.

۱۸. به منظور سهولت برای تجار و جلوگیری از ضیاع وقت سیستم های الکترونیکی هر دو وزارتخانه (مالیه و صنعت و تجارت) باید برای توزیع معیاری جوازها باهم وصل گردد.

۱۹. برای تسریع در کار و سهولت برای مراجعین باید میکانیزم الکترونیکی سازی مراسلات میان دو وزارتخانه (مالیه و صنعت و تجارت) ایجاد و عملی گردد.

۲۰. برای توزیع جوزها باید کمیته ای از متخصصین تشکیل شود تا پلان تجاری (بزنس پلان) تهیه شده از سوی هر سکتور از جمله سکتور تجارتی را قبل از صدور جواز ارزیابی نماید.

۲۱. در زمان اهدای جواز داشتن نمبر تشخصیه مالیه دهنده(TIN)، شماره تماس فعال نهاد، آدرس الکترونیکی نهاد، آدرس دقیق پستی و دفتری نهاد و حساب بانکی ویژه نهاد که فقط پول های نهاد یا شرکت مذکور در آن واریز شود(نه پول غیر تجارتی)، شرط می باشد.

۲۲. برای تثبیت تجار واقعی باید قبل از خرید جواز تجارتی، خریدار باید پنج صد هزار (۵۰۰۰۰۰) افغانی را به صورت ضمانت در حساب بانکی بلاک نماید.

۲۳. جواز های جعلی که در هر اداره (گمرکات، مستوفیت ها و سایر ادارات )دریافت گردید در آنجا قید گردد و عاملین آن به ارگان های عدلی و قضایی معرفی گردد و اگر جواز ها به منظور تخلف به کار برده می شد جواز و مالکین آن باید در لست سیاه شامل گردد، تا در آینده حق جواز دهی از آنان سلب شده و عاملین آن به ارگان های عدلی و قضایی معرفی گردد.

۲۴. فورم تشخیص مشتریان(Know your customer) که در آن مشتریان هر دو وزارتخانه که جواز ها را اخذ نموده و مالیه میدهند دوباره خواسته می شود و موجودیت آنان تثبیت می گردد، باید ترتیب و عملی گردد.

۲۵. یک نماینده به خاطر طی مراحل اسناد در گمرکات میتواند که حد اکثر اسناد سه شرکت را طی مراحل کند.

۲٦. به منظور تسریع توزیع جوازها در مرکز توزیع جواز یک شعبه تذکره دهی الکترونیکی برای اداره محترم احصاییه ایجاد گردد.

۲۷. وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، دواپاشي (Fumigation) را اجباری نه بلکی اختیار انجام میدهد.

afghanistanmof ۲ www.mof.gov.af


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.